# دافغانستان خلکو ته خطاب

## ددولت د رئیس او صدراعظم ښاغلی محمد داؤد
## راډیویي وینا

چه د ۱۳۵۲ کال د سنبلې په لومړۍ ماښام له راډیـــو
افغانستان څخه برود کاست شوه

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

Ketabton.com

فروشگاه کتاب فرهاد انوری
Farhad Anwari Book Store
سرک ویلات دوم کابل
پست بکس ۵۰۳۱۸
PROPERTY
ACKU
6847

## بسم‌الله الرحمن الرحیم

# دافغانستان گرانو نجیبواو قدرمنو وطنوالو !

ددی ملی قیام او سترسیاسی بدلون په مناسبت چه زمونږ په گران و طن کښې مینځ ته راغلی دی بیاهم خپلی اودخپلو قهرمانو ملگرو ودبی نهایته صمیمانه مبارکیو مراتب چه دافغانستان د ملت په قوت بنا ارادی له مخی یی په‌سر بښندنه‌دی ستر تاریخی‌ملی کارته اقدام وکړ او د افغانستان دلومړنی جمهوریت‌تاداوتیرەئی کیښودله دهیواد ټولو نجیبو او زیار ایستونکوخلکو اوپه تیره بیا دافغانستان فداکار اوځوان اردوته وړاندی‌کوم .

همدغه رنگه د افغانستان‌دخلکو له پرشوروشوقه ملاتړ څخه چه په و طن کښې‌دجمهوری رژیم دتاسیس له لومړی ورځی څخه یی څرگندکړی دی منته او تشکر کوم.

گران وطنوال پوهیږی چه‌دافغانستان داستقلال د بیرته ترلاسه کولو تاریخ په حقیقت‌کښې دغبرگولی شپږمه نیټه‌ده مگر له اوږدو کلو نه معمول‌داوه چه ددی سپیڅلی ملی ورځی نمانځنه دوږی دمیاشتی‌په لومړی نیټه وشی سږ کال هم دپخوانی تعامل په پیروی‌ځان وجدانا مکلف گڼم چه دخپل ځان او خپلو ملگرومبار کی ددی سپیڅلی ورځی په مناسبت ټولو گرانووطنوالوته وړاندی کړم .

داستعمار د تیری په مقابل‌کښې دافغانستان دملت دری ستری مبارزی زمونږ د خلکودفدا کاری ،وطندوستی اونه ماتیدونکی عزم لو یه شاهدی‌ده‌چه انکار تری نشی کیدای.

د وطن د خپلواکی بیرته‌ترلاسه کیدل چه‌خلور پنځوس



Farhad Anwari Book Agency
Malik Nawaroz Market
Arbab Road - Peshawar

Ketabton.com

کاله مخکی دافغانستان ستروواو دقدر وړ لاربنوونکو په همت اودافغان ملت داردو او ملی فداکارو لښکرو په قوت ترسره شو یوځل بیا دهمدی مفهوم یوه بشپړه نمونه ده . مونږ داعلیحضرت غازی امان الله خان او اعلیحضرت غازی محمدنادر شاه شهید اوهغو لویو میړنو نه هیریدونکو خد متونو چه له پردوسره دمجادلی په مخکښینی صف کی واقع و اوددی خاوری دزامنو قربانی چه دآزادی په لاره کښی یی په فطری میړ نتوب او آزادی غوښتلو سرونه ورکړیدی ،د ستاینی او احترام په نظر گورو او دخپلواکی مبارزی د ټولو شهیدانو ارواحوته زیات درودواستوو .

# گرانو وطنوالو گرانو خویندو ورونو !

مونږ به د ټولنی د تکامل د شرایطو او قا نو ن سره سم علماً اوعملا دپلان له مخی دلوی خدای په مرسته او د خپلو خلکو په همکاری قدم په قدم د ټولنی د اقتصادی اجتماعی او سیاسی ژوندانه د بنیادی تحولاتو دترسره کولو د پاره اقدام وکړو .

داهغه وعده ده چه دجمهوریت د اعلامیی په اوله ورځ دافغا نستان خلکوته ورکړ شویده. هیله لرم چه د لوی خدای په مرسته به زه او زماملگری د ژ وند تر و ر و ستی شیبی ددی وعدی تر سره کولو ته وفاداره واوسو. مگر حتماً به دامهم سوال زمونږ دخلکو اودنړی په عامه افکارو کی پیدا شی چه مونږ ولی خپلی کورنی او طبقا تی گټی دملی منافعو اودهیوادد محرومو طبقاتو دگټو نه قربان کړیدی.
ددی سوال ځر گند ځواب دادی چه په وروستیو لسو کلونو کښی د سلطنتی رژیم غیر عادلانه اوضد ملی سیاست اودهغه په مقابل کی دافغانستان دخلکو دټولو طبقاتو په تیره بیا


Ketabton.com

د وطن د منورينو څرګندعکس‌العملونه او همدغه رنګه دهغو چټکو تحولاتو کتني چه‌په منطقه اودنيا کښې دآزادى اوترقى په ګټه او داستبدادارتجاع او استعمار په زيان مينځ ته‌راغلل‌دهيڅ وطن‌پرسته‌افغان وجدان ته اجازه نه ورکوله چه ددى ټولو فجايعوپه مقا بل کښې پټه خوله کښيني. دمسئوليت ددى وطن‌پرستانه احساس له مخى ؤچه مونږ څرنګه چه پخپله لمړنى‌بيانيه کښې اعلام وکړ (دوطن دراتلونکى نيکمرغى دپاره مو)(د جمهوريت او واقعى او معقولى ديموکراسى چه اساس‌ئى دافغانستان دخلکو اکثريت ته په خدمت‌بناوى) بيرغ‌وچت‌کړ او دخلکو د پوره حقوقو دترسره کيدو اود ملى‌حاکميت‌په اصل باندى دپوره اعتراف په لاره کښې مو دخداى په‌مهربانى اول ګام واخيست .

ګران وطنوال خبر دى هغه‌پخوانى اميدونه اوهغه نيکى آرزوګانى چه لس کاله مخکى‌په‌ښه نيت څرګندى شوى وى نه يواځى په نظرکى ونه‌نيول‌شول بلکه پخوانى رژيم هغه دمحرومو طبقاتو دښيګڼو ا وګټو پرضد او د واقعى ديموکراسى اود هيواد دترقى‌او وړاندى تګ په ضد عملى کړل زمونږ د ګران وطن‌افغا نستان ځمکه نسبتاً زيات طبيعى منا بع حاصل خيزه‌خاوره با استعداده او زيار ايستونکى خلك لرغونى کلتوراوتمدن لرى مګر زمونږدهيواد وضع اودهغه دخلکو روز ګاردهغه ټولو مسا عد و عواملو سره سره د پخوانى منسوخ‌رژيم دسلطى‌په وجه‌دخواشينى وړدى .

## ګرانو وطنوالو!

دتيرو لسو کلو په موده‌کښې په اقتصادى اجتماعى او سياسى مختلفو برخو کښې‌زمونږ ټولنه سر ترپايه په يو کلك بحران اخته وه‌چه دادى‌په لنډ ډول ئى څيړنه کوو :



Ketabton.com

# په اقتصادي ساحه کښې :

د هیواد اقتصاد چه ددوولومړیو اودوهمو پنځه کلنو پلانونو سره ئې نسبي رشد پیداکاوه له رکود سره مخامخ شو اودپوره ورشکستګۍ خوانه بوتلل شو .

اقتصاد د ی پلا نګذارۍداشخاصو د ذهني امیالوتابع وګرزیده د هیواد د اقتصادي ودې د پاره ئې خپل لازم موثریت له لاسه ورکړ داقتصادي ودې حرکت سست شو اود پانګي تجمع مينځ تهرانغله. د اقتصادي انکشاف دپاره له یوه کال نه تربله کاله پورې ددولتي پانګي ایښودلو حجم کم شو دصنایعو د مینځ ته راتللو د پاره سپماوې او خصوصي پانګي جلب نشوی دمثال په ډول په دوهم پنځه کلن پلان کې د پانګي ایښودلومجموعه ۲۶٫٦٠ ملیارده افغا وه په دریم تش په نامه پنځه کلن پلان کښې ۱۹٫۳۵ ملیارد افغانیو ته رانبکته شوه. کهددوهم پلان د خو محدودو پیش بیني شویو پروژوتطبیق چه هغه هم ددوستو هیوادوپه مرسته تر سره شو استثنی کړو دهیواداقتصاد پهوروستیو لسو کلو کښې دنفوسودکلنيودې دنرخونو دلوړوالی او د مخ په ترقۍ مشابه هیوادودرشد په تناسب ددې په ځای چه یوګام مخکې کیږدي شاته تللی دی. ددې وضعې پهنتیجه کښې دهیواد په ملي عاید کې دلیدلو وړ زیاتوالی رانغی او له هغه څخه هم یوه زیاته برخه هر کال ددې په ځای چه پانګه شي په غلطولارو اوبوالهوسي کښې حیف و میل شوه. خصوصي پانګي اچوني پهلومړی پنځه کلن پلان کښې د ټولو سرمایه ګذاریو ۹٫٦ فیصده تشکیلوله پداسې حال کښې چه په دریم تش پهنامه پنځه کلن پلان کښې په سلو کې ٦٫٧ ته راټیټ شو. سرهلدې چه دلومړی او دوهم پنځه کلن اقتصادي پلان د تطبیق پهاثر دهیواد اقتصادي زیر بنا



Ketabton.com

اوتاداودتر يوى اندازى پورىايښودل شوىؤ مگرلــه دغــو مساعدو امكاناتو څخه دهيوادد اقتصادى تكامل او صنعتى كو لو پــه گټــه لازمــه گټــهوانخستله شوه .

په صنعتى توليداتو كبنى‌په تيرو لسو كــلونو كبنى د پاملرنى وړ زياتوالى رانغى .د كرهنى په ساحه كبنى هــم دستاينى وړ پرمختياونه ليدله‌شوه .

په اوسنى حــالت كبنى دهيواد اقتصاد په كرهنه متكى دى او كــرهنه دملى توليد دمجموعى په سلو كبنى نــوى تشكيلــو ى. دكــرهــنى زاړه‌مناسبات اوپه دغه برخه‌كبنى ډيرابتدايى او وروسته پاتــى‌طريقه چه له بده مرغه تراوسه هم زمونږ‌په ټولنه‌كبنى‌مسلطه‌ده دبز گرانو دفقر دملى بازار دتنګوالى دخلكو د پيرودلــودقدرت د نشتوالى او داومــو زراعتى موا دو دكمبود با عث‌گرځيدلى ده .ددى لسو كلــو په موده كبنى دافغانستــا ن‌دمالياتى سيستم دبنه كيــدو دپاره موثره گام وانه خيستل‌شو ماليات تراوسه هم ددولت په عوايدو كبنى ډيره ناخيزه‌برخه لرى دځمكى مالــياتو د څارويو ماليى او دداخلــى اوخارجى تاجرانو او تجارتــــى شركتو په عايــداتــو باند ى‌مالياتو ډيرى ټيټى سويى تــه سقوط وكړ او د هغه‌په ځــاى‌ددولت ددستگاه داضافى‌لگښت دتكافو دپاره د غير مستقيم‌مالياتو حجم زيات شو .

په تيرو لسو كلو كبنى دهيواد په خارجى تجارت كبنى دخلاصــو دروازو سيا ســت‌تعقيب شو دملى منافعو لــه لحاظه دضرورى اوغيرضرورى‌مالونو دتوريد تر مينځ فرق رانغى . دهيواد دعمده‌صادراتى‌اجناسو په صادرولوكبنى ښه والى و نه‌ليدل شو په خارجى‌اسعارو باندى په هيواد كبنى هيڅ ډول كنترول ټينگ نــه‌شو اوپه عمده صادراتى اقلامو با ند ى پخوانى اسعــــارى‌نرخونه ايسته شول . دخارجى اسعارو په ساحه كبنى‌د دولت‌پولى سياست دنوسانونو اود



Ketabton.com

توربازار د دست‌بازیو تـابـع‌شو نه یواځې له خـــارجـي نمایندګیو اوخارجي تاجرانــوسره دقانون له مخې معاملــه ونشوه بلکه دمقرراتو په‌خلاف‌هغوی ته ټول امتیا زات‌ورکړل شول او پدې ډول یې د هیوادداقتصاد ضعیف او ورشکست کړ .
خلاصه داچه په وروستیولسو کـلو کښې په اقتصادي لحاظ زمونـږ په ټولنــه کښې‌عامه اوتامه ګډوډي او بـــې بندوباري راغله او د ی کـاردهیواد اقتصاد د ورشکستګۍ خولې ته‌بوت‌او دهیواددصنعتي ودې‌او‌اقتصادي‌او‌اجتماعي‌ترقي دپوره کندې موجب وګرځید .

# په‌اجتماعي ساحه‌کښې:

دژوندانه سویه اودفرهنګ‌اوروغتیا سطحه زمونږ په‌وطن کښې له بده مرغه په ډیـــره‌ټیټه جهانې سطحه‌کښې واقع ده . په وروستیو لسو کلـــوکښې دافغانســـتان دخلـکو د ژوندانه سطحه مرتبا ټیټه‌شوه‌اودژوندانه لګښت زیات شو چه دروند اودتحمل نه وتلـي‌بارېې هرګال ملاماتوونکې‌شوه نرخونه په سرسام ډول جګ‌شول مګرددولت دټیټې رتبې دمامورینو اومستخدمینو معاش‌اودکارګرانو اجرت (دمرې که پرې‌پایې) له حدنه تجاوزونکړ.په‌ټولنه کښې فقر او بیکاري توری ورځې او اوارګي شدت‌وموند په‌خلکوکښې ناروغتیاوې ترپخوا زیاتي شوې پوهنې اوملي فرهنګ انحطاط وکړ عدم مصئونیت اودقانون عدم‌تطبیق‌په‌ټولنه کښې حکـمفر ما شو مطلق‌العنانې ا و بـې ر حـمومستبدینو، متنفذینو او دلوړو رتبو مامورینوظلم وستم شدت‌وموند ددولت په دستګاه کښې فساد زیاد شو او رسوائې ته‌ورسید .له بیت‌المال دمملکت دملي ثروت اود خلکو له جیب‌څخه غلا رواج شوه اختلا س ارتشاء ،احتکار ،قاچاق بری،تقلب او سود خوری ورځ پــه



Ketabton.com

ورځ زیاته شوه له همدی امله دژوند ساحه چه زمونږ دخلکو داکثریت دپاره محدو ده ورلاتنګه شوه.

## په سیاسی ساحه کښی :

په تیرو لسو کلونوکښی د دولت کورنی سیاست دسیاسی فریب او تقلب او په چل اودوام فریبی پربنسټ ولاړ و .
په رازراز تهدیدونو او تحریکونو لاس پوری کول د زورسیاست څخه کار اخیستل دوحشت دمینځته راوړو او دخلکو دبیلو بیلو طبقاتو په مقابل کښی دتبعیض او امتیاز پاللوسیاست او د افغانستان د قومونو ترمنځ د نفاق اچولو او تفتین سیاست د سلطنتی د ژ یم داستقرار او بقا شرط ګڼل کیده .

دارتجاعی قو تونو تحریك او پهوطن پالونکو باندی د دانګلو دپاره د هغوی دتش په نامه اصطلاحی دیموکراسی په پلمه او نامه ددانګلو دپاره د هغوتشویق دپخوانی ړ نګ شوی رژیم په کورنی سیاست کښی لوړ مقام درلود.
په خلکو باندی دخفه کولو او فشار ا چولو سیا ست تحمیلیده د زورورو کسانو دظلم تعدی او بیعدالتی دفاع وشوه اودمظلومانو پوښتنه نه کیدله دخلکو په تیره بیا دزلمی نسل په مینځ کی په قصدی ډول فسادته رواج ور کول کیده دسیسی اوضدملی تفرقی مینځ ته را تلی . د تش په نامه دیموکراسی څخه ناوړی سیاسی استفادی کیدلی او پارلمان درژیم په ضد ملی اعمالو باندی درائی ورکولو په یوه ماشین اود بیت المال دخزانی اودخلکو دجیبونو دلوټولو او تالا کولو په یوی دستګاه بدله شوی وه. دخلکو حقیقی حقوق ا و آزادی ورځ په ورځ سلبیدلی او عملاتر پښو لاندی کیدی. په هیواد کښی دځنګل قانون اوزورګویی او خودسری حاکمه وه. دپخوانی



Ketabton.com

رژیم د سیاست مشخصه داوه‌چه دبیطرفی‌دسیاست ترعمومی عنوان لاندی دناوړی استفادی‌سیاست پر مخ بوځی.

په خارجی سیا ست کښی د آزاد قضاو ت په با ب خبری کید لی خو د عمل په ډگر کی‌په هیڅ یوه اساسی مسئله‌کی دخلکو آزاد قضا وت تــــه‌موقع ور نکړی شوه .دولــت پخپل خارجی سیا ست کښی‌رښتینی نه وو .چل او تیــر ایستل ساز ش او چاپلوسی‌د دی سیاست له مشخصا تو څخه وو .

دمظلومانــو اســویلــو اوفر یاد ونو او د خطر هغــه زنگ چه له هری خوا څخـه‌غږول کیده ونه کړی شــول هغه مغرور رژیم د خپل وطن‌بد مرغه او له فلاکت نه ډک حال ته ملتفت کړی ـ نــورداصلاح هیله یو مخ شلید لی وه او د دغسی رژیم دړنگولونه‌پرته بله‌لاره موجوده نه وه خو هغه بد مرغه او گــډوډحالت چه د پخوانی رژیم نه را پاتی شو یدی مونږ ته‌ئی‌ډیری درنی وظیفی را په‌غاړه کړی دی .

د ژو ندانه په ټولو اجتماعی‌او اقتصا دی چارو کی ډیری او لویی نیمگړ تیاوی شته‌چه‌باید لری شی د کارو نو پــه طریقو کښی زیات نقصانونه‌لیدل کیږی چه باید اصــلاح شی . د هیواد اقتصــا دی‌وضع ډیره ورانه و یجاړه او گډوډه ده . دخلکو په‌اجتماعی‌ژوند کی راز راز مشکــلات شتــه دی . ددو لــت اداری‌دستگاه فوق العا ده فا سده اوژړه شو یده . دژو ندانــه‌په ټولو اړ خونو کی اجتماعی بی عدالتی خر گنــدی دی .نا داری او بیکار ی ناروغی او بیسوا دی په جامعی باندی‌مسلطه ده . تبعیض او نــه برابری ناوړی نتیجی ورکړیدی‌او پــه هـمــد ی تــو گــه



Ketabton.com

په لسو نو نور مشکلات شته‌دی چه باید حل شی او پـه سلگو نو مهمی ملی و ظیفـی‌شته چه باید تر سره شی .
مگر باید وکتل شی‌چه آیا داټول مشکلات په یو ځل حل کیدای شی او آیا هغه ټولـی‌ملی و ظیفی چه زمونږ پـــه وړاندی پرتی دی سملا ســی‌سرته رسیدلی شی ؟
د هغو یو شمیر هیواد ونوتجر بی چه پخپله اجتما عی او اقتصا دی و ده ئی شروع کړی یده دا خبره تائید وی‌چه د پیړیو پیړیو وړو ستـه پاتی‌کیدلو د نښو نښانو د لری کولو او د ټولـــو چـارو دسملا سی سمون د پاره ډیره بیړه اوهری ممکنی اوناممکنی‌وسیلی تـه لاس اچـــول د ماشو مانو کار او یو بـــــی‌نتیجی عمل دی .نو ځکه‌باید د ټولنی داصلاح اود خلکـــودحا لت دښه کو لو دپاره په ښه تدبیر او ټینگو قد مونوپه ژور سنجش او د امکاناتو څخه داکثر حد تر درجی‌پوری‌د استفا دی په بنا په کارپیل وشی .
باید گام پ ه‌گام د عملـــی‌فعا لیتو نو میدان پـراخ او ارت کړی شی او مرحله پـه‌مر حله پرمخ تگ وشی .
په اقتصا دی اجتما عی اوسیا سی ژوند کی د ټولـــو خلکو گډون د ملی مهمووظیفود بر یالی سرته رسو لـــو ضرو ری شرط دی .

# وطنوالو !

مونږ اوس‌په داسی مرحلـه‌کی یو چه دغه سوالونه مطرح دی. څه‌کولی شو ؟ دکوم ځای‌نه‌باید شروع وکړو ؟کومـی خواته باید لاړ شو ؟
دی پوښتنو تـه دځـوا بورکولو دپاره باید دټولو نـه مخکښی اعلام وکړو چـه پـه‌اوسنی اوضاع اوحالت کښی



Ketabton.com

دافغانستان دځوان جمهور ی‌دولت ستره مهمه او ضروری وظیفه داده چه باید په‌هیوادکښی دجمهوریت رژیم بنسټ ټینګ شی امنیت‌په پوره ټول‌وسائل شی قانون تطبیق او خوندی کړی شی خو دافغا نستان ټولو خلکو ته پرته له کوم توپیر او امتیاز څخه‌سالم د ژوند اودیموکراتیک شرایط برابر کړی شی‌او په‌لنډه موده‌کښی دجمهوریت دنوی اساسی قانون دمسودی‌دمطالعی او جوړولو دپاره یو کمیسیون وټاکل شی اودقانونی مراحلو له بشپړ و لو اود افغانستان دلویی جرګی‌له‌خوادتصویبیدلونه وروسته نا فذ شی او یـوه رښتیانی مـلی‌دیموکراسی مینځ ته‌راشی .

د افغانستان جمهوری دولت‌غواړی چه دهیواد په‌اجتماعی نظام‌کښی یو اساسـی او ژوربدلون راشـی .دولت بـه د پورتنیو وظایفو په نظـر کښی‌نیولو اوسرته رسولو له مخی او دهغو سره جوخـت ددغـولاندنیو وظیفـو داجـرا کولو کوښښ وکړی .

## ۱ـ سیاسی اصلاحات:

د پخوانی رژیم په‌له مینځـه‌تلو سره اوس داامکانا ت‌پیدا شویدی چه ټولی‌دولتی قواوی‌د خلکو په‌لاس اودملی‌حاکمیت استقرار دافغانستان د ځوان‌اودیموکراتیک جمهوری په وجود کښی متمرکز شی .

## ملی حاکمیت :

له نیکه مرغه‌ځوان‌جمهوریت‌دافغانستان دخلکو داکثر یت دزړه له کومی مـلاتـړ څخـه‌بر خور دار دی‌اود هغوی‌دګټو نمایندګی کوی .

په راتلونکی وخت کی‌به دجمهوریت داساسی قانون بـه بنا چه نافذ یږی دجمهور ی‌دولت دهیئت نوی ټاکنـه او



Ketabton.com

ددولت دقواؤ جلاوالی دبرابروحقوقو په اساس اودافغانستان د خلکو په‌قانونی اشتراك سره‌مینځ ته‌راشی .

جمهوری دولت به زمونږ دوطن افغانستان دځمکی دتمامیت او خپلواکی اودملی حاکمیت ددفاع په‌مقصد چه دهغه لـه سپیڅلو وظیفو څخه ده ډیری‌به دغه سیمه‌کی دقواؤ دانډول په‌نظر کښی نیولو سره وسله‌وال پوځونه او دفاعـی قدرت تقویه کړی دافغان ځوان اردونور دجمهوریت یواردو دی .

جمهوری دولت به ددولت‌اداری دستگاه دپرسونل دکار دلارو چارو سادگی دعـمل اوچټکتیا اود اداری دسیستم له لحاظه تصفیه اواصلاح کاندی‌ازهغه به نوی جوړه او بشپړه کړی .

دافغانستان جمهوری دولت‌چه دخلکو دگټو په اساس د جمهوری وطن پرستو میړنـوفداکاری په نتیجه کی مینځ ته‌راغلی دی ددیمو کرا تیـک‌آزادیو دحقوقـو پـراخـتیا او پراخوالی دجمهوریت داساسی‌قانون او دهغه د نورو متممو قوانینو په وجودکی د ټولنی‌دترقی اوتکامل دنوی نظـــام دټینګښت اومـادی او معنوی‌پرمختگ په خاطر لازم بولی .

دافغانستان جمهوری دولت‌به دملی گټواو جمهوری رژیم دټینگښوپه چوکاټ کی دآزادیودتامین د پاره سرله اوسه په لازمو اقدامــاتو لاس پوری‌کړی .

## ملی مسأله :

افغانستان هغه هیواد د ی‌چه‌په هغه کی بیلابیل ورو نه قومونه ژوند کوی بیلو بیلـومزیو دافغانستان اوسیدونکی یوله بل سره تړلی دی چه دهیواد دتاریخ په اوږدوکی گډه سر نوشت لری او دهیواد دخپلواکی اوآزادی په لاره کی یی په متحده توگــه مبارزه‌کړیده او دملی گـډه فرهنگ



Ketabton.com

په‌منځ ته‌راتلو کی‌یی یو له بل‌سره همکاری کړیده . نـــو جمهوری دولت دافغانستان دخلکو ترمینځ دیوه ربنتیانــی مادی اومعنوی یووالی د پیداکید و د پا ر ه دبرا بر تیـــا ورور گلوی او دوستـــی پـــه‌اساس زیار باسی او پدی لته کی دی چه دهر ډول تو پیـــرریښی له بیخه و باسی.

## ۲ - ا قتصا د ی اصلاحات :

افغانستان له‌اقتصادی پلوه‌دودی په‌حال‌کښی یوهیواد دی اوددغه وروسته پاتی کـــیدولری کول دا غواړی چه په‌دی برخه کی چټك اوپراخ گامونه‌واخستل شی اوپدغه باره‌کی بنیادی تحولات اجرا شی اوباید یوخپلواك مترقی او هـــم آهنگ ملی اقتصاد دپلان اومعاصر ساینس او تکنولوژی دستنو په بنامنځ ته راشی .

## د صنایعو پراختیا:

دافغانستان جمهوری دولت‌دکانونو دایستلو دصنایعو د فلزکاری او ماشین جوړولو دصنایعو اوکیمیاوی او برښنا دصنایعـــو په شـــان درنـــد وصنایعو منځ ته‌راتلوته چه د هیواد داقتصاددچټك پرمختگ اوخپلواکی دتینگښت ضامن دی ډیرزیات اهمیت ورکو ی‌اوپه دغه برخه کی به ددولتی سکتور لاندی جدی اقدا ما ت‌وکړی .

دوسپنی دویلی‌کولو دکارخانی‌دجوړیدو په مقصدحاجی‌گك دوسپنی له‌کان نه استفاده‌کول‌اودهیواد صنعتی کول زمونږ پخوانی هیله ده .

جمهوری دولت به دکوچنیومنځنیو صنایعو د جوړیدو او لاسی صنایعو په خانگه کـــی‌خصوصی پانگـــی اچـــول او



Ketabton.com

خصوصي تشبثا ت تشويق حمايه لاربنووونه او کنترول کاندی اوپه مختلف ډول به دملي اقتصاد د ترقي يو والی اوانهولیزی ودی په مقصد دو لتی پا نگو او خصوصی پانگو تر مینځ لازمی همکاری منځ ته راوړی .

جمهوری د ولت دملی صنایعو لاسی صنایعو اوملی هنرونو ملاتړ خپله جدی وظیفه بولی اودمالونو دسیالی او خارجی پانگو په مقابل کی به د کورنیو صنایعو اوتجارت څخه دملاتړ سیاست غوره کړی .

## تجارت :

جمهوری دولت به دملی ګټوله مخی دیوه لاربنودل شوی تجارت په اساس دهیواددبهرنی تجارت لاربنووونه وکړی .

## په پو لی او ما لی برخه کښی:

جمهوری دولت پهپه هیوادکی خارجی اسعارجدی کنترول کاندی. دولت به په ز یا تهسود باندی پهتور بازار کی دپیسو ددوران مخه و نیسی اوپه بانکونو کی به اما نات اوسپماوی (زیر می) تشویق اوتضمین کاندی دافغا نستان جمهوری دولت به په غیرمستقیم مالیاتوباندی مستقیمو مالیاتو ته درجحان ور کولوپه اساس د هیواد ما لیاتی سیستم اصلاح کاندی.

## کر نه :

د افغانستان جمهو ری دو لت به دافغا نستا ن دخلکو داکثریت دګټو دپارهدځمکو اصلاحات دخپلو بنیادی اصلاحاتوپه پرو ګرام کی دیوهمهم اقدام پهتوګه پهنظر کی ونیسی دزراعتی تولید اولګښت کوپرا تیفونه او تعاونی



Ketabton.com

شرکتونه به دکروند کړو داکثریت په ګټون اودهغوی په ګټه دجمهوري دولت په وسیله جوړ شي.
دولت به ښاري ځمکي په شعه صورت کي چه امکان یې موجود وي آبادي او داو بولګولو شبکي به پراخه کړي. دغه راز دولت به دخارویو دروزني دپراختیا او پرمخ تیا دپاره علمي لار بیرو نه غوره کړي.

## ساختمان، مواصلات، حمل و نقل:

جمهوري دولت به دعصردغوښتنو او شرایطو سره سم عامه ساختمانونه منځ ته راوړي دکورجوړولو فعالیتونه به چټک کاندي او دمقرراتو له مخي به یي په بي کوره او ربتنیا نیو مستحقینو با ندي وویشي.
دولت به په هیواد کي دښارجوړولو چا ري اصلاح او په تیره بیا د کابل د ښار دساختمانونو دنوي کولو پخه وینست کلن پلان تطبیق کړي. دولت به مواصلاتي شبکي پراخه دهیواد ښارونه اومهم اقتصادي مرکزونه به د هغو اساسي لارو په وسیله چه موټرپري تګ راتګ کولي شي یو له بل سره ونښلوي اودهیواددایندي دپاره به داور ګا ډ ي دپټلیو دشبکو دجوړیدو امکان ترمطالعي لاندي ونیسي.
جمهو ري دولت به دچټک حمل ونقل اودخلکو دهوساینې دتأمین دپاره عامه ترانسپورتي او دسترو ترانسپو رتي شرکتونو لومړی درجه وسایل رهبري او تقویه کاندي اود ښاري سرویسونو په چاروکي دخلکو دپاره زیاتي آسانتیاوي په نظر کي لري.

## ۳ — اجتما عي اصلاحات:

زمونږ دهیواد په اوسني حالت کي دخلکو مطلق اکثریت له مادي اومعنوي حقوقو اونعمتونو څخه بې برخي دي او



Ketabton.com

له اجتماعی پلوه په سختوشرایطو کی ژوند کوی د غه
زړه دردونکی حالت په هیڅوجه له اوسنی مدنیت او
دافغانستان دنجیبو اومستعدوخلکو دپاره متناسب ندی نو
دافغانستان جمهوری دو لت داجتماعی اصلاحاتو د ا لاندی
پروګرام په نظر کښی لری.

## د کار د شرایطو ښه والی:

جمهوری دولت به د کاردشرایطودښه والی او ددولتی
ما مو رینو او مستخدمینودمعیشت دپاره لازم اقدامات
وکړی. دولتی مقاماتو ته بەلوړیدل دصلاحیت دشایستګی
اوتقوی دخدمت دسوابقو دوطن‌پرستی اودوطن دلوړتیااو
ترقی په لاره کی خد مت‌سرەدمینی پەاساس په نظر کی
ونیسي.دولت به دخپلولومړیواقداماتو پەجمله‌کښی دکاریګرو
دمزد کمه اندازه د ژوندانەدلګښت ددوی دما دی اومعنوی
ضروری اړ تیاؤ اودکار یګرودکار دسا عتونو په تناسب
وټاکی اودمساوی کار پەمقابل‌کښی بەدمساوی مزد ا صل
برقرار کاندی .

دولت به دکار متر قی ا ودیموکراتیک قا نون د کا ر
دشرایطو اصلاح او ښه والی‌اودصنعتی اوزراعتی کارګرانو
دفردی اواجتماعی حقو قـودمصئونیت دتـر سره کولو
دپاره و ضع او تطبیق کړی.

جمهوری دو لت بەدکاریګرواودښار اوکلی نورو زیارکښو
دپاره اجتماعی بیمی دخپل‌مالی‌حالت‌او بنیی له مخی جوړی
کړی اوهم به دښاری حالت‌ښه والی دخلکو دژوندانه د



Ketabton.com

شرايطو دښه والي په‌غرض دخپلو اقداماتو ديوى برخې په حيث په نظر کې و نيسي او دکورونو مو سسو او هيتيو دکرايې په‌تثبيت کې به‌کلک اقدا م وکړي.

## عمومي ترقي:

دافغانستان جمهوري دولت دپوهنې په‌پروګرامو نوبانده ی نوى کتنه کوي اوهغه به‌اصلاح‌کاندي دعمومي بيسوادي دله مينځه وړلو اود ملي اومترقي‌کلتور په‌اساس به‌په‌هيواد کې دفرهنګي تحول دمنځ ته‌راتلو دپاره مبارزه وکړي او ځوان نسل به‌په تقوى اودوطن‌پالنې‌او‌خلکو ته دخدمت کولو په روحيې سره وروزي.

دولت به‌ددولتي ښوو نځيودپراختيا او پراخوالي له لارى دټولو ماشومانو دپاره نجو نې‌وي‌که هلکان عمومي او وړ يا ابتدائي تعليمات تامين کړي.اودغه راز دعلمي کادر دروزنې په‌مقصد به دمنځنيو اولو ړ وتعليماتو لاره اواره کړي.

جمهوري دولت به دخلکو دبيدارى دپاره دديمو کرا تيکو خپرونو دپراختيا او پراخوالي‌دپاره ګټوره مرسته وکړي او ملي هنرونه تياتر سينما ګانې اوراديو به‌تقويه اوپراخه کړي اودغه راز دلزو م په صور ت‌کې به‌په هيواد کې دتلويزيون دشبکې دجوړيدلو دپاره اقدام‌وکړي .

دولت به دهيواد دتير مدنيت‌په‌باره کې دعلمي او تاريخي خيړنو د پراختيا په مقصدلرغونو آثارو دساتنې اود لرغون پيژندنې دخيړنو اوملي‌موزيمونو دجوړولو دپاره لازم اقدام وکړي .

دولت به دهيواد په بيلوبيلوسيموکې په بيلو بيلو سويو دکتابخانو د جوړولو دپاره‌زيار وباسي.

جمهوري دولت به معالجوي‌طب اودولتي‌روغتونو‌ته‌پراختيا



Ketabton.com

ورکاندی چه‌تروسه‌وسه پوری‌دهیواد دتولواوسیدونکو دپاره دعلاج او تداوی لاره اواره‌شی‌په تیره‌به‌وقایوی‌طب پراخ‌کړی اودساری ناروغیو د مخنیوی‌دپاره به‌لازم‌وسایل اوتجهیزات برابر کړی.

دولت بــه دمملکت د مالــی‌حالت دتوان له‌مخی زیږنتونونه روزنځی او وړکتونونه د میندواو ماشومانو دحمایی او دنوی نسل دسالمی ودی ا و روزنی‌دپــاره جوړ کاندی.

دولت به‌په فحشاء په چرسوتــریاکو او الکهولو بــا ند ی دعــادت کیــدو دریښو دبیخــه‌ایستلو دپاره په جدی اقداماتو لاس پوری کړی. دغه راز بــه‌دشیانو دګران خرڅلاو،احتکار او قاچاق په خلاف جدی‌مبارزه‌وکړی .

جمهوری دولت به دژوندانه‌په‌ټــولو اقتصادی ، اجتــماعی سیاسی او فرهنګی شئونوکی‌له نارینه‌ؤ سره دافغانی‌میرمنو دحقوقو دبرابرتیا اوتأمین‌دپاره‌دلازمو شرایطو دپیداکیدودپاره اقدام وکړی .

دولت به تروسه وسه پوری‌دکوچیانو دمیشته کیدو اودغه راز په‌بی‌ځمکو خلکو با ندی‌ددولتی امــلاکــو دویش دپاره لازم شرایط بــرابر کــړی اودکــوچــی او عشیره‌وی بــدوی ژوندانه آثار به‌له مینځه‌یوسی.

# ګرانووطنوالو!

دانښکاره ده چه اقتصادی اواجتماعی ترقی او فرهنګی‌تحول دبنیادی ریفورمونو له‌اجرا او رښتیانی دیمو کراسی لــه تأمین سره نژدی ارتباط لری.دسیمی او نړی دتکاملی سیر

په حالت کی ستر اجتماعی اوسیاسی تحولات منځ ته راغلی دی ملی ا و اجتماعی جنبشونه‌ورځ په ورځ زیاتیږی ــسوله



Ketabton.com

دوست او آزادي غوښتونکي طاقتونه دجګړې او تیرې په مقابل کې بر تري ترلاسه کوي .
دسولې اوپه روغه جوړه کې دګډ ژوند سیاست ورځ په ورځ په نړۍ کې زيات طرفداران پیدا کوي.
د افغانستان ځوان جمهوري دولت د نړۍ د تحولاتو په نظر کې نیولو له لارې او دخپل کورنی متر قي سیاست په پیروي په خپل خار جي سیاست کې دغه مسئلې په نظر کې نیسي .
افغا نستان تل یو سو له دوست هیواد و او وي به دغه سیاست د افغانستان دځوان جمهوري دولت له خوا په دوامدار ډول تعقیبیږي .
د افغانستان جمهوري دولت پداسې حال کې چه په خپلو بین المللي عادلانه تړونو نووفادار دی عقیده لري چه د ملګرو ملتو د موسسې دغړو هیوادو په مرسته او د نړۍ د نورو سوله دو ستو هیوادو په ملګرتیا کولای شي چه دسولې اوامنیت دبر قرارساتلو دبین المللي کړکیچونو د لرې کولو او د دینا نت دسیاست د بریالیتوب په چارو کې برخه واخلي .
د افغانستان جمهو ر ي دولت عقیده لري چه باید د استعمار او نژاد پرستي سیاست پای ته ورسول شي د ملتونو د سر نوشت دټاکلو حق ثبوت ته ورسیږي په عربي هیواد و بانـدي داسرا ئیلو د تیري نښې نښانې له مینځه یووړلې شي او د فلسطین د خلکو ملي حقوق دی بیرته ژوندي کړی شي .
د بیلو بیلو اجتما عـي سیستمونو لرونکو هیوا دو نو تر منځ دی په سوله کې دګډ ژوند سیاست په دائمي ډول تعقیب شي او د تیري اوجګړ ی سیاست ته دی خاتمه



Ketabton.com

ورکړی شي او د اختلا فوړ مسألو دحل دپاره دی لـه قوی څخه د کار اخستلو نه ډډه وشي .

په دغو هدفونو باندی داعتقاد په خاطر د افغانستان جمهوری دولت د مثبتي فعالي بيطرفي د سوله غوښتو نکی مستقل سياست په نظا مـي تړونو کي دنه ګډون د ملګرو ملتو منشور تـه احـترام دآزادی غو ښتلو دنهضتو نـو څخه د ملاتړ د نړی د ټولـوسو له دوستو هيواد ونـــو سره د دوستي او همکار ی‌اود دوستانه روابطو د ټينګولو او د دغو هيواد ونو سره دمـتقابلـو ملي منا فعو پر بنا د اقتصادی فني او فرهنګي روابطو د پراختيا پر اساس ولاړ دی .

د افغانستان جمهوری دولت‌د خپلو خلکو د آزادی ارادی په پيروی د جمهوری اعلاميي‌په تائيد يوځل بيا په صراحت او صداقت سره اعلا موی چه‌د افغانستان د کورنـي او د باندني‌سياست‌ماهيت دسولي‌او عدالت مـلي آزادی ، مـلي حاکميت او ملي استقلال‌اصل‌تشکيلوی لدغه امله دا خبره تکرار وم چه په سوله کښي‌ژوند کول او د نړی د ټولـو خلکو او ملتـو نـو سره دمتقابل احترام په اساس د دوستانه علائقو‌ټينګول زمونږ‌د زړه له کومی هيلو څخـــه دی د ګاونډيـتوب د اصولـوپه حکم دا خبره څر ګندو م چه د شوروی جماهيـر و داتحاد سره زمونږ‌دښه ګاونډيتوب او دوستي په روا بطوکي کوم خلل نشي راتلای .

د خپل بل ګاونډی هيواددولسي چين جمهوريت سره دوستانه او صميمانه رو ابطلرو اوهيله ده دغه دوستي‌بيا هم پسي پراختيا ومومي .

دايـرانـي ورونـو سـر ه‌زمونږ روابط تل دوستانـه و او هيله ده چه دغه دوستانـه‌روابط نور هم پسي ټينګـــک



Ketabton.com

شی دپاکستان سره د روا بطوپه باب باید وویل شی چــه متاسفانه دایواځنی هیواد دی چه مونږ د پښتو نســتان د ملی مسئلی او د خپلو پښتنواو بلوڅو ورونــو دحقه حقوقو په هکله ورسره د نظراختلاف لرو د افغانستان جــمهور ی دولت به په پوره حوصله اوســره سینــه دپښتو نستا ن د ملی مسئلی د سوله ایز اوشرافت مندانه حل د لا ر ی د پیداکولو دپاره په کــلکــه کوشش وکی مونږ عقیده لــرو چــه دافــغانستـــا ن ا وپاکستان مناسبات د دوا ړو هیوادو نو د گټی او په منطقه کی د سولی د پرمختیا او ټینگیدلو دمنافعو سرمطا بقت لری هیله لرو چه په پای کی پدغه کار بریالی شو .

ډیری زیاتی معنوی اړ یکی مونږ د عربی ملی او مترقی هیوادونو سره تړی مونږ بــه د دریمی نړی د نا پییلـــو هیوادونو ســره دســولــی دتامین او د استعمار سره په خلاف په هره بنــه چه وی او دنژادی تبعیض سره دمبارزی د پــاره نژدی همکاری ولرو.

د توجه وړ ټینگو مزو اوګڼو وجوهاتو د هند اوبنګله دیشں سره زمونږ دوســتـی تر سره کړی ده او په نیمه لویه وچه کی دائمــی سو لــه غواړو پدی وخت کی بــه بی ځایه نه وی چه دهغو ټولــو بین المللی موسساتو او ټولو دوستو هیوادونو په تیره بیاد شوروی جماهیرو د اتحــاد دامریکــی دمــتحدو ایــالاتو دالمان د فدرالی جمهو ریــت دولسی چین د جمهوریت او ټولو هغو دوستو هیوادو نــو څخه چه زمونږ د هیواد پــه پرمختګ او انکشاف کی ئی برخه اخستی ده په قدر دانی سره یادونه او د افغانستا ن د دولت او خلکو له خــوا دزړ ه له کومی څخه تشکــر وکړم .



Ketabton.com

# گرانو وطنوالو!

اجازه غواړم په ډېره صراحت سره چه زمونږ افغانانو خاصه ده په اسلامي ربنتياني ترقي غوښتونکي رښا کي او د عصر او زماني د ايجاباتو سره سم اعلان وکړم چه دافغانستان ځوان جمهوري دولت به دبنيا د ې اصلاحاتو په لاره کي بې د بيړې ښخه قدم په قدم او دخداي په مرسته بـې د دې ښخه چه دافراط او تفريط خواته وښوئيږي په زړه ورتيـا پر مخ لاړ شي .

مونږ پوهيږو چه پـد ې تاريخي مرحله کي دافغانستان د جمهوري دولت اسا سـي وظيفه اجتماعي نا برابر يـو نا داري اووروسته پاته کيدلو ته د خاتمي ورکولو ښخـه عبارت دي چه د پيړيو پـــه اوږدو کي زمونږ په هيوادکي را پيدا شو ې دي د سياسي خپلواکي ټينگيدل اقتصا دي استقلال ته رسيدل دي .

که چيري جمهوري دو لت د اجتماعي پر مخ تگ او د يو بل ټينگ اقتصاد د مينځ ته راوستلو د مبارزې مرحلي ته داخل نشي د هيواد سياسي استقلال او زمونږ د خلکـو ملي حاکميت له خطر سـره مخامـخ کيږي ديـوه دا سي ملي اقتصاد د مينځ تـــه راوستلو د پاره چه په معاصر ساينس او تکنو لوژي ولاړوي او ز مـونـږ د خلکـو د ژوندانه د سويې د جگولو په منظور لازمه ده چه ډيرژور او بنيادي اقتصادي او اجتماعي ريفور مونه اجرا شي دولتي سکتور ټينگښت او تکا مـلومومي هيواد صنعتي او ملـي صنايـع ميـنځ تــه ر ا شي ديمو کراسي په اجـتما عـي سيـاسـي او ا قــتـصا دي ژوند کي عموميت پيدا کړي. يوازي انقلا بي ربنتـيا نـي تـحولات بـه هيواد تـه ددي



Ketabton.com

قدرت ورکی چه خپل مـــلی استقلال ټینګ کړی او دلوی خدای په مرسته باندی په ډاډګیرنـــی سره د اقتصادی او اجتماعی پر مختیا په لا ر کی روان شی .

## ډیروګرانو اودرنو وطنوالو !

د دغو سترو ملی وظیفــوتر سره کول دا ایجابوی چه پدغه خطیره او حسا ســـــه تاریخی مرحله کی ټول ملــی او مترقی طاقتونه او د هیوادټولی وطـن پر ستـه طـبقی د هیواد د ځوان جمهوریـت درژیم تر لوا لاندی په یـــوه پراخه جبهه کی سره متحـدشی د خدای په فضل او د بنیادی اصلاحاتو په لاره اود یوه نوی مقتدر او مترقـی افغانستان د جوړیدو د پاره په وطن پـرستانـه شور او شوق په میړانه او آیندی ته په ډاډ د ګران افغانستا ن د ځوان جمهوری له انقلا بـی مرود سره د لو ی خدا ی په توکل په مخ ولاړ شی .

مذهب زنده دلان خوا ب پریشانی نیست
ازهمین خاك جهان دگری ساختن است

ژو نـدی او تـل دی وی افـــغا نستـا ن
سر لوړی دی وی د افغـا نستـا ن خلـك
لوړ دی وی جمهوری بیرغ

ومن الله التوفیق



Ketabton.com

# خطاب بمردم افغانستان

## متن دری بیانیه رادیویی ښاغلی محمد داؤد
## رئیس دولت وصدراعظم

**که شام روزاول سنبله ۱۳۵۲ از رادیوافغانستان برودکاست شده است**

PROPERTY OF ACKU
6847

Ketabton.com

# بسم‌الله الرحمن الرحیم

## هموطنان عزیز نجیب وقدرشناس افغانستان

بمناسبت این رستاخیز ملی وتحول شگفت انگیز سیاسی که دروطن عزیز ماافغانستان رخ داده است، بازهم مراتب تبریکات بی نهایت صمیمانهٔ خود ورفقای قهرمان خویش راکه به‌تاسی ازارادهٔ بالقوهٔ ملت افغانستان جانبازانه بامر عظیم تاریخی ملی اقدام نمودند وسنگ تهداب اولین جمهوریت افغانستان را گذاشتند به‌همه مردم نجیب وزحمت کش کشور وبخصوص به اردوی فداکار و جوان افغانستان تقدیم میدارم .

